فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

# د خواجه محمد بنګښ دیوان ته تنقیدي کتنه

پوهنيار محمدشفيق حقمل، پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی،
فراه لوړو زده کړو مؤسسه

**ایمیل:** haqmalsh@gmail.com

**لنډيز**

خواجه محمد نومیري، د روایاتو له مخې د (بنګښ) تخلص ورته شـــوی، د منځنۍ دورې دیوان لرونکی شـــاعر دی، په کم عمر کې د علم حاصـــلولو لپاره پېښـــور ته راغلی و. د نوموړي دیوان په (۱۹٦۵ز) غمی جان پریشان خټک تدوین کړی د پېښور پښتو اکاډمی لخوا چاپ شوی دی. لومړیو پاڼو کې ښاغلي مولانا عبدالقادر، ورو سته ښاغلي غمي جان پری‌شان خټک دیباچه (سریزه) لیکلې ده. بیا د (ځوخبرې) تر سرلیک لاندې ښـــاغلي خیال بخاري لیکنه لري. د دغو لیکنو او د دیوان د لوړو اشـــعارو څخه جوتیږي، چې دا خورا یو ارزښـــتناک دیوان دی، په دې مقالې کې هڅه شـــوې، چې د خواجه محمد بنګښ دیوان تدوین باندې کره کتنه وشي او د نوموړي پر ژوند باندې رڼا واچول شي. د څېړنې ډول مې کتابتوني څېړنه وه او میتود مې تشریحي او تحلیلي دی. مسـلک له مخې محصـلینو، مسـلکي غړو او مینه‌والو ته د متن لیکنې په اړه نوې مواد په لاس ورکول کیږي. د مقالې لو ستونکو ته به د خواجه محمد بنګښ د دیوان، او تدوین په اړه معلومات ورپه ګوته شي. د معاصرې متن څېړنې له مخې د دې دیوان سریزه، د اصـلي نسـخو څخه اخیستنه، د میتود ټاکنه، وی‌پانګه، د ستونزمنو وییونو شرح او داسې نورې ستونزې لري. دا چې دا دیوان په پښتو ژبه او ادب کې ارزښتناک اثر دی؛ نو د دې تقاضا کیږي، چې دا دیوان یو وار بیا د معاصرې متن څېړنې د اصولو او معیارونو پر بنسټ تدوین او چاپ شي.

**آر وییونه:** تدوین، دیوان، کره کتنه، متن، نسخه

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

## سریزه

د پښتو ادبیاتو په معاصرې دورې کې له اساسي مسایلو څخه چې ترسره شوي، هغه د پخوانیو متونو چمتوکول او خپرول و، په دې دورې کې په کوزه پښتونخوا او افغانستان کې د منځنۍ دورې ډېر آثار په ځانګړې توګه د کلاسیکو شاعرانو دیوانونه تدوین او چاپ شول، ولې د دې آثارو په تدوین کې د معاصرې متن څېړنې میتودلوژي اصول په بشپړ ډول مراعت شوي نه دي؛ نو دا آثار د تدوین له اړخه تنقید ته اړتیا لري. له دغه آثارو څخه یو هم د خواجه محمد بنګښ دیوان دی، خواجه محمد بنګښ د کلاسیکې دورې د پیاوړو شاعرانو څخه دی، چې یو مردف دیوان لري. په پېښور کې پر (۱۹۶۵ز) کال د شاغلي غمي جان پریشان لخوا په (۱۵۲) مخونو کې تدوین او چاپ شوی دی، دا چې د پوهانو لهخوا دا دیوان د ادبیاتو په برخه کې یو کتور او موثر دیوان بلل شوی. د دې دیوان تدوین ته د کره کتنې پوره اړتیا ده، له دې امله غواړم چې یو علمي مقاله وربانديې ولیکم.

ادبپوهانو خواجه محمد بنګښ د کلاسیکې دورې د منځنۍ دورې شاعرانو په ډله کې شمېرلی، خو ځینې شعرنه یې د قوي شاعرۍ استازیتوب کوي. دا څېړنه به لوستونکو ته د خواجه محمد بنګښ د دیوان جوړښت او منځپانګې په اړه بشپړ ډول معلومات ورکړي، له بل اړخه د دې چاپ شوي دیوان متن باندې د متن څېړنې اصول په عملي ډول بیان او تشریح شوي، چې د لوستونکو د متن د تنقید اړخ هم قوي کړي. د دې ترڅنګ د خواجه محمد بنګښ د ژوند د احوالو په اړه معلومات ترسره کړي.

تر اوسه پورې د خواجه محمد بنګښ د دیوان د پر تدوین شوي متن باندې کوم چا تنقیدي کتنه نه ده کړې. نو دا مقاله به لومړني هڅه وي. په دې علمي مقاله کې لومړی د خواجه محمد بنګښ لنډه پېژندنه شوې، ورپسې د نوموړي دیوان په لنډه ډول معرفي شوی او وروسته دغه دیوان تدوین د معاصرې میتودلوژي د اصولو له مخې تنقید او څېړل شوی دی او هغه نیمګړتیاوې چې د مدون څخه په قصدي ډول او یا هم له کوم بل سبب له مخې پاتې شوې هغه په ګوته کړم. ډاکټر حنیف خلیل د تنقید په اړه وایي: د نقد څخه زموږ یوه موخه د ځوانو څېړونکو روزل او لارښوونه هم ده (حنیف، ۲۰۱۱ز، ۹۰). دا څېړنه لوستونکو ته د خواجه محمد بنګښ د دیوان په اړه معلومات ورکوي، بل دا چې د متن څېړنې اصول په عملي ډول بیان او تشریح شوي او د دې ترڅنګ د خواجه محمد بنګښ د ژوند پر احوالو باندې هم بحث شوی دی. په دې څېړنې کې د کتابتوني ډول

فراه علمي-څېړنیز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

او تشریحي او تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. د موضوع اړوند بحثونه د معتبرو ماخذونو څخه اخیستل شوي او د خواجه محمد بنګښ پر دیوان تطبیقي ډول ترسره شوي او په اړوند ځایونو کې د تحلیل وروسته په تشریحي ډول راوړل شوي دي. د دې څېړنې پایله داسې ویلی شو؛ خواجه محمد بنګښ په کلاسیکې ادبي دورې کې د متوسط شاعر په توګه یاد شوی او ځینې شعرونه یې ډېر لوړ دي. دغه دیوان د متن څېړنې د اصولو له مخې نیمګړتیاوې لري او ارزښت ته په کتو سره یو ځلې بیا تدوین او چاپ ته اړتیا لري.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنې کې د کتاب‌تونې ډول او تشریحي او تحلیل میتود څخه ګټه اخیستل شوی. کوم تعاریف او مواد چې د موضوع اړوند وو، هغه د معتبرو ماخذونو اخیستل شوي او د خواجه محمد بنګښ پر دیوان باندې په تطبیقي ډول عملي شوي او تحلیل وروسته په تشریحي ډول راوړل شوي.

## د خواجه محمد بنګښ ژوند

د خوشحال خان بابا د وخت په شاعرانو کښې خواجه محمد یو څرګند شاعر دی، د دې شاعر په اړه لږ مالومات شته. خواجه محمد نومیږي، د روایاتو له مخې د (بنګښ) تخلص ورته شوی (حبیبي, ۱۳۸۵: ۹۷)، بنګښ د پښتنې قبیلو یو قوم دی، دا پښتانه د کرلاڼي قبایلو یوه برخه ده، چې ځانګه یې په خالد افاغنه سره هم شهرت لري. د روایاتو مطابق د دوی د مورث اعلی نوم اسماعیل و، چې هغه دوه زامن لرل؛(ګارد) او (سمل). لومړی دا خلك په پکتیا او زرمت کې اوسېدل د غلجیانو سره د جګړې له کبله له دې سیمې څخه وشړل شول (روندمېاخیل, د پښتنو قبیلې او شجرې, ۱۳۸۷, پاڼ ۴۱۷). د کلام په یو ځای کې د (کلیم) کلمه هم د ده د نوم سره راغلې ده. په کم عمر کې د علم حاصلولو لپاره پېښور ته راغلی دی.

خواجه محمد بنګښ په طریقت کې د شیخ عبدالرحیم لاس نیوی کړی، چې نوموړی د چشتیه طریقې مرشد و، خپله خواجه محمد خپل ژوند یا د ژوند یوه برخه د نوموړي پیر سره تېره کړې ده. همداسې په خپل یو بیت کې د اورنګ زیب د دورې د ظلمونو شکایت کړی دي. داسې معلومیږي چې په دغه زمانه کې یې ژوند کړی دی.

خواجه محمد بنګښ که خپل شعر او قریحه فقط عرفان مضامینو ته بېله کړی نه وی او په نورو خواوو کې یې شاعري کړې وای؛ نو دی به د پښتو ژبې له لومړۍ درجه شاعرانو څخه و. د عرفان او اخلاقو برخه یې هم درنه ده، په ادبي تلازماتو کې هم تر خپلو

معاصرينو تر شاه نه پاتې کېږي، مثال په دې بيت کې يې يو خورا زوړ او مبتذل مضمون په يوې حسي تشبيه سره نوی کړی دی (رشيدی, ۱۴۰۱: ۹۶).

زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دي
بيا مشکل دي رغول د شکسته وو
(بنګښ, ۱۹۶۵: ۱۱)

## د خواجه محمدبنګښ د ديوان معرفي

دا ديوان په (۱۹۶۵ز) کال د پيښـور پښـتو اکاډمۍ لهخوا د پيښـور په پبلک آرټ پريس خپرندويه ټولنه کې چاپ شـوی دی. د ديوان په درييم او څلورم مخونو کې د هغه مهال د پښـتو اکاډمي ډايرکټر ښـاغلي مولانا عبدالقادر د( پيژندګلوي) تر سرليک لاندې ليکنه کړې ده. د (۵-۴۰) مخونو پورې ښـاغلي غمي جان پريشـان خټک ديباچه (سريزه) ليکلې ده. د (۴۱-۴۸) مخونو پورې د (څوخبرې) تر سرليک لاندې ښـاغلی خيال بخاري ليکنه لري. د دې وروسته تر (۱۵۲) مخې پورې د خواجه محمد اشعار راوړل شوی دي ، چې دا ا شعار تقريباًټول د غزل په فورم کې ويل شوي، چې تقريبا (۱۴۳) غزلې دي؛ خو د کتاب په پای کې (۳۵) فورمونه د رباعياتو او قطعاتو په نامه هم راوړل شوي دي، که څه هم ځينې د دې فورمونو سره اړخ نه لګوي. د ديوان په پای کې دا متن( تمت تمام شـد، کتاب خواجه محمد از د ست فقير حقير رحيم الله ساکن طورو بروز پنجشنبه سنه ۱۲۵۵ هـ) راغلي (بنګښ, ۱۹۶۵: ۱۵۲).

د خواجه محمد بنګښ شـاعرۍ کې د ژوند زياتې برخې په پوره کامل سره عکاسي شـوې دي او هم يې شـاعري ټولشـموله ده، يوازې په يوې موضـوع کې بند نهدی پاتې شوی او تل يې د ژوند ټول حقايق په خپل شعر کې رانغاړلي دي او هغه څه چې د ده په شاعرۍ کې ډېر بارز دي، هغه د الله ج او د هغه د خوږ نبي کريم ص ستاينه او صفت دی (رشيدی, ۱۴۰۱: ۹۷).

د بريتانيا په ملي کتابتون کې هم د خواجه محمدبنګښ شـعري منتخبات په لاندې ځانګړنو شته:

شاعر : خاجه/ خواجه محمد بنګښ

ټولوونکی او ژباړونکی : هـ . ج . راورټي

خپروونکی : ويليمز او نارګيټ

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

د چاپ ځای: لندن

د چاپ کال : ۱۸۶۲م

ټول مخونه : ۲۳

موضوع : د خاجه/ خواجه محمد بنګښ د شعري غورچاڼ دا انګرېزي ترجمه د هـ . ج . راوړټي د نامتو

اثر «له شپاړسمي څخه تر اولسمي پېړۍ پوري د افغانانو د شاعرۍ غورچاڼ » پر (۴۸-۳۲۶)

مخونو چاپ شوی دی.

په بریټیش کتابتون کې د المارۍ نخښه :

d.6.14163.

په بریټیش کتابتون کي، د خا جه/ خواجه محمد بنګښ د ځینو نورو غورچاڼو لپاره، دا نخښې وګورئ:

e.5.14163.

e.8.(103-118.14163)

e.9.14163. (خپل, ۱۳۸۹, ۱۲۸)

## د دغه دیوان لیکلو او ترتیب ته تنقیدي کتنه

پښتو تشریحي قاموس دیوان داسې راپېژني: د یوه شاعر د اشعار جونګ یا مجموعه، هغه کتاب چې په هغه کې د یو شاعر کلام په مردف توګه د هجا د تورو په اساس راغونډ شوی وي (امرخیل, لودین , & هلالي, ۲۰۱۲, ۱۴۰۶). نو دغه پېژندنې پر اساس دغه اثر شعري دیوان بلل کیږي.

اوسنی متن پوهنه دا حکم کوي، چې که متن ډېرې خطي یا چاپي نسخې ولري، نو د متن تر تهیه کولو دمخه باید متن څېړونکي ټولې نسخې دقیقي وګوري او هغه نسخه د اصل په توګه انتخاب کړي، چې مؤلف په خپله لیکلی وي او یا د هغه تر نظر لاندې لیکل شوې وي (هیوادمل, ۱۳۹۶: ۵۴) . که څه هم د دې دیوان په سریزه او نورو برخو کې دا یادونه، نه ده شوې، چې دا دیوان د څو نسخو څخه تدوین شوی. خو په لمن لیک کې چې کوم کلمات یې د اصلاح په توګه راوړي، په قیاسي ډول سره یې اصلاح کړي دي. میجر راوړتي خپل په کتاب ګرامر اف دې افغان لینګویج کې وایي: (د دې ګرامر اول ټوک د چاپ کیدو نه درې کاله پس ماته دا سې د ډېر قیمتي ا شعارو یو مجموعه په لاس راغله، کومه چې خواجه محمد بنګښ لیکلي ده. د چا شعرونه دا خو لاپریږده چې په

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

افغانســتان کې هم چا نه وولیدلي) که د راوړتي دې خبرې ته لږ تم شــو، نو ګورو چې نوموړي ویلي( خوا جه محـمد بنګښ لیکلی دی) ممکن منظور یې دا وي، چې د دې نســخې لیکوال خواجه محمد بنګښ دی. ولي د دغه تدوین شــوي دیوان په پای کې داسي لیکل شوي دي: ( تمت تمام شد، کتاب خواجه محمد از د ست فقیر حقیر رحیم الله ساکن طورو بروز پنجشنبه سنه ۱۲۵۵ هـ)(بنګښ،۱۹۶۵: ۱۵۲). نو داسې اټکل کیدای شي، چې دا دیوان حداقل دوې نسخې درلود. د دغه تدوین شوي دیوان په سریزه کې د دې یادونه هم نه ده شوې، چې دا نسخه یې له کومه ځایه یا له چا څخه یې ترلا سه کړې ده. د روش څخه دا معلومیږي، چې دا دیوان د یوې نسخې څخه تدوین شوی دی. نو د دې څخه معلومیږي، چې مدون د دیوان یوه نسخه درلوده یا هم د متن په ډیرو نسخو کې د اصل د انتخاب مسئله په پام کې نه‌ده نیول شوې.

د متن څېړنې د معاصرو روشونو له مخې د متن د تصحیح لپاره د روش غوره کولو د متن په شرایطو او د متن د نسخو په ډیروالي، لږوالي، ښه والي، بدوالي زوړوالي او نویوالي پورې اړه لري. د مثال په ډول د متن څېړنې په معاصرو روشــونو کې د تصــحیح لپاره درې رو شه غوره ګڼل کیږي: انتقادي تصحیح، التقاطي تصحیح او قیاسي تصحیح (هیوادمل, ۱۳۹۶: ۵۷) د دیوان مدون په سریزه کې د تصــحیح روش ته اشــاره نه‌ده کړې . چې تصحیح یې په څه روش سره ترسره کړې، خو په خپلو خبرو کې یو ځای دا سې لیکي: د شاعر د حالاتو نه علاوه که بله کومه نسخه د ده کلام په لاس راغلې وای، نو د کتاب مقابله او تصــحیح به آســانه شــوي وای (بنګښ, خواجه محمدبنګښ دیوان, ۱۹۶۵ز). داســې معلومیږي، چې د یوې نســخې څخه ګټه اخیســتل شــوې. نو کله چې نســخه یوه وي، د قیاسي میتود څخه کار اخیســتل کیږي. په داســې میتودونو کې څېړونکو او لوســتونکو ته قوي او ضــعیف متن نه ښــکاري. د معاصرې متن پوهنې یوه غوښــتنه دا ده، چې د متن بېلابېلو نســخو د مقابلې په صــورت کې لاس ته راغلي توپیرونه باید د متن د محقق له خوا وښوول شي، که مقابله کېدونکو نسخو وریانټونه د اصل هغې په پرتله قوي وي، قوي متن اصل ته او د اصل ضعیف متن لمنو ته راوړل کیږي (هیوادمل, ۱۳۹۶: ۵۶).

د دې دیوان کوم کلمات چې تصحیح ته اړتیا وه او د مدون لخوا اصلاح شوي، اصله کلمه یې په لمن کې او تصحیح شوې کلمه په متن کې ځای پرځای کړې. خو ځینو ځایونو کې اصل په متن کې او اصلاحي کلمې یې په لمن کې لیکلي دي.

په دې دیوان کې د نومونو او نکتو شرحې ته هیڅ پام شوی نه‌دی. نه یې په لمن کې او نه یې د کتاب په پای کې کومه شرح راوړې ده. په داســې پخوانیو کتابونو کې ډېر کلمات شــته؛ چې شرې ته اړتیا لري، ځکه عام لوســتونکي د دې کلماتو په مفهوم نه

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

پوهيږي. ښاغلي محمدابراهيم همکارخپل ادبي کره کتنې کتاب کې د کره کتنې دندو کې دا سې وايي: د کره کتنې يوه دنده د ادبي اثارو شرحه او تو ضيح ده، د کره کتنې پر وخت يوازې د ادبي اثر نيمګړتياوې او ښکلاوې په ګوته کول نه‌دي، بلکې د هغه د معنويت هره خوا داســې راسپړل دي، چې د هغو په څرګندولو نه يوازې د لوســتونکي په پوهنه کې کومک وکړي بلکې د هغه ډيرې اغيزناکې ماناوې او مفاهيم د دې په واسـطه کشـف او د سم هنري اغيز لامل کيږي (همکار, ۱۳۹۵: ۷۵).

د دې ديوان مقدمه د (ديباچه) تر سرليک لاندې په (۳۵) مخونو کې ليکل شــوې. پيل يې د بنګښو د قبيلې د درې طبيعي ښکلاګانې او حالت په هنري متن سره انځور شوې دي، چې د يوې علمي او څېړنيزې مقدمې له پاره دې شي ته اړتيا نه ليدل کيږي. وروسته د هغه ماخذونه يادونه کړې، چې د خواجه محمد بنګښ شعرونه يې را اخيستي يا يې د خواجه محمد بنګښ يادونه په هغه کې شوې ده، بيا يې د ديوان څخه هغه بيتونه د بيلګې په توګه راوړي، چې د نوموړي د ژوند حالات څه ناڅه روښانه کوي، چې د متن څېړنې له اصولو سره سم د بهرني او داخلي شهادتونو څخه ګټه اخيستي ده. چې دا يې يوه ښه ځانګړ نه بلل کيږي. په دې سريزه کې د ميجر راوړتي(منتخبات)، پادرهيوز (کلـيد افغاني)، عبدالحی حبيبي(پښتانه شعرا)، صديق الله رښتين (پښتو ادب تاريخ) او (اټک کی اس پار) نومې کتاب د ماخذ په توګه استعمال کړي دي. وروسته د( اشعارو افکار) تر سرليک لاندې د ديوان په معنوې خوا ډېر غربيدلی، ولې د ديوان په شـکلي يا جوړښـتيزه خوا يې هيڅ بحث کړی نه دی. د متن څېړنې له مخې د ديوان د دغه نســخې او نورو نســخو په اړه او د ديوان د ترتيب او تصــحيح پر روش باندې هيڅ بحث نه دی کړی. ښاغلی سرمحقق هيوامل وايي: د خطي نسخې د پاڼو شمېر او د هغو تقطيع بايد درج شي او دا هم بايد وويل شي، چې په هر مخ کې څو ليکي ليکل شوې دي او د ليکو اوږدوالی يې څومره دی؟ حاشـيې يې څومره دي؟ او اندازه يې څومره ده؟ (هيوادمل, ۱۳۹۶, ۱۳۹). د دې ديوان په سريزه کې د خطي نسخو دغه ځانګړنې ليکل شوي نه دي.

يو ديوان په تدوين کې لوســتونکو ته د نورو آســانتياو راوړلو ترڅنګ، د ســتونزمنو وييونو مانا او شرح ده. ښاغلي سرمحقق هيوامل په خپل کتاب وايي: که متن د لږو نسخو يا يوې نسخې له مخې تهيه شوي وي، نو بويه چې د متن لغات د متن په هره صفحه کې حل شي، خو که چيرې متن نســخه بدلونونه او په حاشــييو کې نور ضروري مطالب ډېر ولري؛ نو په کار دي، چې لغات د متن د صفحو له قيده سره د متن په پای کې قيد شي او معناوې دې يې ورته وکښل شي (هيوادمل, ۱۳۹۶: ۶۱).

ولې په دې ديوان کې ځينې ستونزمن لغتونه يې د متن په لمن کې مانا کړي دي او د ديوان په پای کې ويې پانګه نه لري، نو د دې ديوان په پای کې بايد يو غني ويپانګه ورکړل شوې وای. همداسې ډېر نور ستونزمن او پخواني لغتونه هم شته، چې مانا شوي نه دي. دا ديوان غلط نامه هم نه لري. ځکه چې ځينې غلطي هم لري، چې اصلاح شوي کلمات بايد په لغات نامه کې ليکل شوي وای.

څنګه چې دا کتاب د اوس څخه( ۵۲)کال مخکې ليکل شوی. نو طبعاً د هغه مهال په ليکدود سره ليکل شوی. چې د اوسني معياري ليکدود سره توپير لري. د ځينو توپيرونو يې په لاندې ډول دی.

۱. په ځينو کلمو کې يې حرکتونه په تورو نه دې ښودلې لکه: د (دې، تيره، مې) کلمې يې د (د، تير،م) په بڼه راوړي دي.
۲. د (ڼ) توری يې په (نړ) سره ليکلی.
۳. د ( چې) مورفيم يې په( چه) سره ليکلی دی.
۴. د پښتو پنځه ډول ياګانې څخه يې درې ډول(ی، ئ، ے)کارولي دي.

**پايله**

په دې علمي مقاله کې د خواجه‌محمد بنګښ د کلاسيکې دورې شاعر د ديوان پر تدوين باندې کره کتنه او ارزونه د متن څېړنې د اصولو له مخې ترسره شوې ده. د څېړنې سره دې پايلې ته ورسيدو، چې د تدوين کې د متن څېړنې اصول رعايت شوی نه دي. خواجه محمد بنګښ د کلاسيکې دورې يو نامتو او ديوان لرونکی شاعر دی. چې دا ديوان د ښاغلي غمي جان پريشان لخوا ترتيب او تدوين شو دی.

خواجه محمد بنګښ په کلاسيکې ادبي دورې کې د متوسط شاعر په توګه ياد شوې او ځينې شعرونه ډېر لوړ دي. نو دا ديوان ډېر پخوا چاپ شوي، د بيا چاپيدو وړاندېز کوم. ترڅو تر لوستونکو پورې ورسيږي. د نوموړې د ژوند په اړه يو بلې څېړنې ته اړتيا شته. تر څو د ژوند نور اړخونه يې روښانه شي. دې ديوان ته يو مفصله ويپانګه او تعليقات وليکل شي.

## اخځليکونه

امرخيل، عزيزالله. لودين، دولت محمد، & هلالي، عبدالحکيم. (۲۰۱۲). **پښتو - پښتو تشريحي قاموس**. پيښور: مهين خپرندويه ټولنه.

بنګښ، خواجه محمد. (۱۹۶۵ز). **خواجه محمدبنګښ ديوان**. پيښور: پيبلک آرټ پرس خپرندويه ټولنه.

حبيبي، عبدالحی. (۱۳۸۵). **پښتانه شعرا**. پيښور: يونيورسټي پيبلشرز خپرندويه ټولنه.

حنيف، خليل. (۲۰۱۱ز). **تنقيدي ادب** . پيښور: يونيورسټي پيبلشرز خپرندويه ټولنه.

خپل، محمدهارون. (۱۳۸۹). **په بريټش کتابتون کښې د پښتو پخوانيو چاپي آثارو کتابښود**. لندن: افغان ادبي جرګه.

رشيدی، جمشيد. (۱۴۰۱). **د پښتو ادب منځني دورې د ديوانونو څېړنه**. کابل :کابل پوهنتون.

روندمپاخيل، محمدعمر. (۱۳۸۷). **د پښتنو قبيلې او شجرې** .کابل: مومند خپرندويه ټولنه.

همکار، محمدابراهيم. (۱۳۹۵). **ادبي کره کتنه** . جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.

هيوادمل، زلمی. (۱۳۹۶). **متن څېړنې ميتود لوژي**. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۹۶-۱۰۵

# A critical review of Khawaja Muhammad Bangash Diwan

Muhammad Shafiq Haqmal, Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Education, Farah Higher Education Institute

**Email**: haqmalsh@gmail.com

***Abstract***

His name is Khawaja Muhammad, according to the traditions, he was given the surname (Bangash), and he was a poet in his youth, who came to Peshawar to acquire knowledge at a young age. His Dewan (1965) was edited by Ghami Jan Paraishan Khattak and published by Peshawar Pashto Academy. In the first page Mr. Mawlana Abdul Qader, later Mr. Ghami Jan Paraishan Khattak wrote the preface (introduction). Then Mr. Kheyal Bukhari has a writing under the title of (Several Sayings). For these reasons, and the high poems of the Diwan, which is a very valuable Diwan, in this article. An attempt has been made to review the editing of the Diwan of Khawaja Muhammad Bangash and shed light on his life. My type of research was bibliographic research and my method is descriptive and analytical. Professionally, students, professionals and enthusiasts are provided with new material on text writing. The readers of the article will be informed about the Diwan of Khawaja Muhammad Bangash, and it's editing. According to contemporary textual research, the introduction of this book, taking it from the original manuscripts, selecting the method, content, description of difficult words and so on have other problems. This Diwan is a valuable work in Pashto Language and Literature. Therefore, it is requested that this book be edited and published once again based on the principles and standards of contemporary textual research.

**Keywords**: Diwan, Editing, Overview, Text, Version